که غواړئ د سولې او پخلاینې دره
ببرته اوسې، اوربند ټینګ کړئ
# اوربند
دور سوم، شماره نزدهم، ۱۰ سنبله، ۱۳۹۸
ORBAND
CEASEFIRE WEEKLY
19th Issue, September 1, 20

- د سولې پر وړاندې د خنډ او خنډ ناغېړي
- آزار ګڼلیه اوس وهه د چول مزلونه
- تر څمکي لاندې ستوري: د قلم نوموړکی سپاهي
- پایه‌های لرزان
- جرأت که د بې حیایي انتها






## بختور ملت

مور نېکمرغه یو چې د دولت او حکومت مشران له دباندې د پردیو پر ټاکنو او الوتکو سپاره په تیاره را ته را رسېږي!
مور نېکمرغه یو چې پر سر د ځانګیرې د باز له کښیناستو مو ولسمشران انتخابدلی شي!!
دا زمور امتیاز، غوراوی او د الله تعالی فضل و کرم دی!



ټاکنیزه نښه
ټاکنیزه شمېره
۹
ORZALA NATURALS ...لا طبیعی
افغانی، طبیعی، ګیاهی



Between Street 1 & 2, Taimani Main Road, Kabul, Afghanistan
Kart-e-4, Next to Allama Higher Education Institute 10799143113
...اسي د ټاکنیزو کمپاینونو تبلیغات په وړ بیه خپروي

Ketabton.com


(c) ketabton.com: The Digital Library




ioglobal


Internet Services Through Fiber Optic
Wireless Communication Solutions
Wired and Wireless Backbone Solutions
Data Center Engineering and Design
IT Infrastructure Solutions
Security Solutions
Storage Solutions
High-Availability Solutions
Software Solutions and Software Systems
Web-based Information Solutions

House No. 1151, Mayons Street on Sherpur Main Road, Kabul | Afghanistan
+93 (0) 20 22 131 21 - 4 | info@io-global.com | www.io-global.com | io-global



# پېر او پلور

عبدالله کرلاني

**له خواله رسنيو څخه**

دا همه شنيع تکرار دی چې زه يا بل څوک په‌خپله ليکنه کې له ګرانۍ او قيمتۍ سر وټکوو!

د نړيوالې جګړې د مهال خبره ده چې د چرچيل لور وېل، چې دوی نشته خلک دي کولچې وخوري. د هر واکمن او شهزادګۍ همدا حال دی...

جنرال مشرف له چې کوم خبريال د دالو د ګرانۍ خبره را پوښتنه کړه چې کيلو دوه سوه کلداره ته رسېدلې، ده په بې توپيرۍ ورته وېلي ول، چرګان دې وخوري!

وايي، د يوه له لوږې دمه خلک، بل يې سر له پرانې لوټې... دلته د هر څه ګرانۍ او کاختې ده، يوازې د خاورې، وينې او سرونو ارزانې او لېلام لګېدلې. ځکه چې دا خاوره په وينو له اهرل کېدو ختې شوې ده او موږ ګويا له همدغې ختې جوړ يو!

که خاوره نه وای ارزانه، پېرنګي به زموږ د هېواد يوه برخه د ډيورنډ په چاره نه وای بېله کړې او د دويم نمبر مفکر به حکومت کې به يې پېرې افغن تار نه وای ګولې.

دلته هر څه د پلور دي! کله په روبل، کله په ريال، درهم، کلداره، ډالر او ډېرې په ګوله پيسو...

فکر، ضمير، ايمان هر څه د پلور دي، خينې پر خلکو خپلې دګرې پلورې، ناسې به خينې نوماندان لېدلي وي چې پر خلکو په هېواد کې خپله مېشتېدنه پلورې، خينې پېرې خپل مهاجرت، يتيمي، غريبي او ان چې د موږ کونډلون پلورې...

خينې پېرې خپله انګليسي پلورې، خينې پېرې خپل جهاد، خينې پېرې خپله واکمنې او حکومت پلورې او د پېر او پلور دغه لړۍ د سرونو په مقابل کې، د وينو په بدل کې د ويجاړيو په عوض کې غځېدلې...

دلته د هر څه احتکار او انحصار حاکم دی. له جهاد، مهاجرت، تر ډيموکراسۍ، کمونيزم، هر څه خپل قيمت لري، هر وار په لوی بيه او کرنسۍ دغه قيمت د مارکيټ رائج الوقت سکه ګرځېدلې ښي.

دلته شريعت هم خپله بيه لري، دغه بيه موږ څو واره په بېلابېلو بېو او بيو پېرې کړې. د هرې بيې سود زموږ ملا کړه، بلکې پوښه ماله کړې ده.

موږ د کمونيزم درنه بيه له سود سره پېرې کړه. هره بيه موږ په خپلو وينو او سرونو ورکړه، ځکه موږ اوس بې سره ګرځو، د سر سرې له لرو، لکوله سرونه موږ په دغه سوداګرۍ کې بايلل، د سر او دستار سرې مو ونشواې موندلې.

موږ د سرونو پر ځای ګېډې لرو او کولمې دکې ګرځوو، له سره زيات د ګېډو خيال ساتو، د ګېډو په ډکولو پسې لګيا يو، ځکه خو مو مفکر هم دويم نمبر را وخې، خو موږ يې د جملې تفکر د همې لوږې بيې په پېرې کولو او يو چې نور يې دا ملت لکه کابلانک کنګال او له افلاس او سقوط سره مخامخ کړی...

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اوربند
اونیزه

رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَــلَداً آمِناً

دور سوم شمارهٔ نزدهم، ۱۰ سنبله، ۱۳۹۸


## نیولیک


آزار گټلیه اوس وهه د چول مزلونه/ ۲
بختور ملت/ ۳
تر ځمکې لاندې ستوري: د قلم نوموړکی سپاهي/ ۴
پایه‌های لرزان/ ۵
دولتي مناصب، نامسلکي افراد او گومارني او د خلکو شکایت/ ۶
د قلم گیله/ ۷
پراډاکس/ ۷
شاندار جشن/ ۸
د مفکر پاچا ملگریو ته دیني مشوره/ ۸
رهبری هستریک/ ۹
تور او سپین/ ۱۰
خواله رسنۍ/ ۱۱
د شخصیت تپه/ ۱۱
په کومو سترگو/ ۱۲
جرأت که د بې حیایۍ انتها/ ۱۲
د سلاکار ناپوهي او ناخبري، که د اشرف غني د پالیسۍ عکاسي؟!/ ۱۲


## اوربند

د تلپاتې سولې لومړی گام
اوربند؛ د ملي جرگې یواځېنی شرط دی
اوربند؛ د روغې جوړې پیلامه ده
اوربند؛ د جگړې مخنیوی دی
اوربند؛ ملي غوښتنه ده
اوربند؛ د هر افغان غږ دی
اوربند؛ د هرې مور هیله ده
اوربند؛ ملي اړتیا ده
اوربند؛ ټیکاو دی
اوربند؛ د سوکالۍ لوری دی
اوربند؛ د بسیاینې لار ده
اوربند؛ د پرمختگ اساس دی
اوربند؛ ژوند دی
اوربند؛ له مرگ سره مبارزه ده
اوربند؛ د بربادۍ مخنیوی دی
اوربند ټینگ کړئ، له اوربند سره کېنئ، پر اوربند راټول شئ.

بسم الله الرحمن الرحیم


سرلیکنه

## د سولې پر وړاندې د ځنډ او ځنډ ناغېړي

د سولې په خبرو کې ابهام نشته، د امریکایي پلاوي او طالبانو سیاسي دفتر ترمنځ مذاکرات له پیله پر څلورو ټکیو غځېدلي او د میډیا پر وړاندې دي:
۱- د بهرنیو پوځیانو د وتلو مهالویش. ۲- له القاعده او ترهگرو سره د طالبانو پریکون او ضمانتونه.
۳- اوربند. ۴- بین الافغاني مذاکرات.
تر کومه چې امریکایي پلاوي او طالبانو څرگنده کړې، په دوو لومړیو مسایلو توافق ته رسېدلي چې کېدی شي په نږدې ورځو کې وروستی او اعلان کړای شي.
د بهرنیو پوځیانو د لومړي جوپې له وتلو او بین الافغاني مذاکراتو له پیلېدو سره د اوربند له شونتیا هم تر ډېره خنډونه لیرې شوي دي.
د بین الافغاني مذاکراتو په اړه ابهام د اشرف غني له اړخه دی.
ده تر اوسه هغه پلاوی چې له طالبانو سره بین الافغاني مذاکراتو ته کیني نه دی ټاکلی.
غني لومړی دا واده د ورا په کچه پلاوي له ټاکلو رامنځ ته شوی فرصت او چانس ضایع کړ، له قطر کابل ته راغلی الوتکې په دومره شمېر بللي او نابللي میلمانه نشوای ځایولی.
اوس چې د پینځلسو شاوخوا د پلاوی پر غړو توافق شوی، له میاشتې زیاته موده کېږي، چې د حکومت لخوا د پلاوي د غړو نومونه او برخلیک گونگ او مبهم پاتې دی.
د سولې په اړه د غني ناړامي او ناغیږي دې کچې ته رسېدلې چې د پلاوي اعلان ته خپله ملا ماته گوري.
د دغه ځنډ حقیقت او مانا څه کېدای شي؟
حقیقت دا دی چې سولې ښاغلي غني ته د خپل تپلي واک د زوال ویره او اندېښنه راولاړه کړې، دغه ویرې او اندېښنې دې د سولې په مخه کې په خنډ او ځنډ اړ کړی، خو سوله اوس ملي، سیمه ییزه او نړیواله اجماع گرځېدلې. د غنی ناړامي، ناغیږي به یې له ځنډ سره مخامخ کړي خو د سولې مخه نشي نیولی. ژمی به تېر شي، تور مخي به سکرو ته پاتې وي.



امتیاز
**افغانستان**
چلوونکي
**افغانان**
خپرندوی
**دانش خپرندویه ټولنه**




اړیکي
+93 (0) 788042821 - 0700639383
بریښلیک
spinsahaar@gmail.com


بیه
۲۰ ؋

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آزار گټلیه اوس وهه د چول مزلونه

شهرت ننګيال

دغه بده تیره ده پخپل لاس ایښي -دغي خبرې ته به وروسته راشو- اوس پر دغي پرمختيا غږېږو چې د افغانستان له شاوخوا دوه دېرش ميليونه وګړيو يې سم نيمايي ډاکتران او مفتيان دي. تاسې په يوه مجلس کې خپل يا د بل، کوم رنځ ياد کړئ، د واره به خپله مخه کې د تشخيص، بلکې نسخو کتارونه ومومئ چې نيا يې ددغي ناروغی لپاره هغه دارو او معجون کارولي، نيکه يې د همدغه رنځ لپاره د پلانی دوا له کاروني رک روغ شو، د پلار شوګر او د أکا فشار يې د هغو او دغو درملو له امله کنټرول دی. په دې توګه هر يو د هر مرض لپاره شافي او کافي علاجونه او نسخې پخپلو جېبونو کې ګرځوي.

زه چې له ولايته د نسخو، کتنو او درملو له پنډ سره کلي ته ولاړم، کليوال په پوښتنه يو يو، دوه دوه، له درې څلورو تر اتو په پوښتنه را روان وو، له همدې ځايه د خپل هېواد ددغسې ډاکترانو په شمېر زما سر پوره خلاص شو.

دومره تکړه چې په څو ټکيو پوښتنه به يې له ماشين او ټکنالوژۍ پرته زما ناروغي تشخيص او د درملني نسخې کتار کړې وې. د کليوالو او همزولو اجماع په دې راغله چې د سيمې په مشهور شکسته‌بند د هډوکيو او ملا علاج پيل کړم، که هر څو مې ورته ويل، نه مې کوم هډوکی مات دی، نه دې ته ورته بله ربړه را پېښه ده، خو په چا دې منله؟! کليوال پخپله اجماع ټينګ وو چې له شکسته‌بند د هندوستان مشهور روغتون د خدمت غوښتنه کړې، د سردار عبدالولي هډوکي -چې نور وراسته او کوشير کېدلی نشواى- د هندوستان اپولو روغتون ترې معذرت غوښتی و، دده په ترلو په څو ورځو کې مات هډوکي له ويلډينګ هم کلک سره ورغلل.

يوه بل چې زما د ناروغۍ په اړه خپل تشخيص سل په دوه سوه کره باله ويل، حاجي صاحب! ته سګ بادو نيولی يې، چې د سپي پوست واغوندې، رک روغ يې!!

که څه هم دده تشخيص زما زړه ته لار موندلي وه چې ځان کې راته وار له مخه د سپي د خاصيتونو پته لګېدلي وه، خو پوښتنه دا وه چې خرباد ولې؟! ځکه چې له خره سره خپل تړاو له سپي مضبوط راته ښکارېده، بله دا چې د سپي پوست د مانا په نړۍ کې هسې له وړاندې هم ما پر مخ غوړولی و، د بل پوست لپاره د خپل همنوع وژل مې پر زړه نشواى اورېدلی.

مفتيان بيا دومره چې دوه دېرش ميليونو کې له نيمايي زيات دربان‌دې سملاسي بې چون او چرا تور پورې کولی، د واره دربان‌دې ټاپه وهلی او په صحرايي فتوا يا محاکمه کې دې د سترګو په رپ کې په څلور مذهبه کاپر را ايستلی شي.

ددغه شمېر مفتيانو پرېکړه او فيصله له طالبانو هم چټکه او ګړندۍ را وځي او اعلان يې هم د څو شېبو خبره ده، ځکه چې په خواله رسنيو کې په هماغه لحظه ستا د الزام او محکوميت پرېکړه ډنډوره کولی شي.

ددغو مفتيانو ځينې سرکاري هغه دي، دوی باقاعده له سر کاره د خپلو فتواګانو تنخوا يا معاوضه تر لاسه کوي، دوی ډايرېکټ مفتيان لګېدلي، لکه د پاکستاني ډرامو ډايرېکټ حوالدار، يا د ذوالفقار علي بوټو د وخت ډايرېکټ انسپېکټران چې ضياء الحق خاني کې در بدر خاورې پر سر ګرځېدل.

زه يو نه، بلکې څو داسې ډايرېکټ ډاکتران PhDs پېژنم چې له باکلوريا، ليسانس او ماسټرۍ پرته يې د پي ايچ ډي سند په غاړه کې ځړولی وي.

د مجازي نړۍ دغه ډايرېکټ مفتيان د حنيف اتمر اختراع ده، هغه دغه بده تيره -چې ما په پيل کې ياده کړې- ايښې ده.

ده د حکومت، نظام او ولسمشر غني په دفاع کې نه، بلکې د ځان پر ننګه او ملاتړ د جعلي اکاونټو نادوده دود او يو شمېر ژنې پر دغه شر او فساد اخته کړل چې اوس يې د غاړې غور ګرځېدلی دی.

له تاسې څه پرده زما زړه و چې د اتمر له ټکټ سره مل شم، خو د ولسمشر غني يو سلاکار -چې تاسې ټول يې له ما ښه پېژنئ- راته وويل:

«مه کوه! جناب جلالتمآب رئيس صاحب وايي، که ما وګټله او که نه، ګوډی يې په خدای که رانه وګټي».

رئيس صاحب وايي:


«زما پيشو پر ما ميو، ميو. دده له خولې را وتلی ټکی ما په پيشو واړاوه، که نه ده راته ويلي وو، زما کوکری پر ما غپ، غپ».

د سلاکار په وينا، اتمر د رئيس صاحب آزار وهلی. ده په هغه لوښي کې -چې ترې خوړل يې- د متيازو ګستاخي کړې.

خو اسد دانش د آزار مازار په څېر مزخرفات نه مني، دی وايي، اتمر د غني آزار نه دی وهلی، ما په... وهلی او قادر شاه ته پته ده. دا چې دانش په څه شي وهلی او قادر شاه ته د څه پته ده، ماته پته نيشته!

(c) ketabton.com: The Digital Library











# بختور ملت

**ملا جانان میرخېل**

مـوږ ډېـر نېکمرغـه یـو،
زمـوږ د روغتیـا وزیـر د ټولـې نـړۍ د روغتیـا وزیرانـو پـه کچـه نړیوالـه جایـزه ګټلـې!!
مـوږ نېکمرغـه یـو، پـه لنـدن کـې مـو سـفیر د اسـیایي هېـوادو تـر ټولـو غـوره سـفیر پېژنـدل شـوی!!
موږ نېکمرغـه یـو چـې د نـړۍ دویـم نمبر مفکـر مـو ولسـمشر دی! دده خپلـه خبره ده چـې د پاکسـتان پـه اشرفیـه مدرسـه کـې یـې وړه- لویـه دوره کـړې. شـیخ التفسـیر والحدیـث همـدې تـه وایـې! ده ځکـه لـه ځـان سره د اشرفیـې د فارغانـو پـه څېـر اشرافي تخلـص نـه دی لګولـی چـې پـه نامـه یـې دغـه مفهـوم او تـړاو خونـدي شـوی دی...
موږ نېکمرغـه یـو چـې ولسـمشرۍ تـه هـر نومانـد مـو لـه لومـړي تـر دولسـم ټولګـي، پوهنتـون، ماسـټرۍ او ډاکـترۍ اول نومـره ختلـی! پـه اتلسـو نوماندانـو کـې هـر یـو پـر ځـان او خپلـه بریـا دومـره غـره دی چـې یـو هـم خپـل سـیال نـشي ګڼلـی، هـر یـو سل پـه دوه سـوه کـې ځـان بریالـی پېژني، ځکـه خـو د جمهـوري ریاسـت لپـاره د نویـو لاسلیکونو پـه پخولـو لګیـا دي.
د معـارف، دیپلوماسـۍ، روغتیـا او... دا حـال دی چـې ناروغـان مـو هـره ورځ یـو پـه بـل پسـې د درملنـې لپـاره د ګاونـډي هېـواد د سـفارت پـر وړانـدې د وېـزو پـه تمـه لـه ژونـد سره مخـه ښـه کـوي!
د ثـور لـه کودتـا وروسـته بـه دې چـې د هـر ملګـري سـوانح لوسـتله، پـه خواریکښـه کورنـۍ کـې بـه زیږېدلـی و، د وروښـو پـه اړخ کـې پـه علمـي او متدینـه کورنـۍ کـې زېـږون دود و، کابـل تـه د مجاهدینـو پـه شـېوه کېـدو، لـه لایـق صاحـب پرتـه هغـو ملګـرو چـې ابـو حنیفـه او شرعیاتـو کـې یـې څـه مـوده اړولـې وه، لـه ځانـو سره مولـوي، مولانـا او قـاضي سریـښ کـړل.
مـوږ ډېـر نېکمرغـه یـو چـې اللـه تعالـی داسـې معصـوم جهـادي، سـیاسي، قومـي، مذهبـي مـشران را بانـدې لـورولي چـې هېـڅ تېروتنـه یـې نـه ده کـړې! کلـه یـې هـم پـل نـه دی کـوږ شـوی، چېـرې هـم تـرې اشـتباه نـه ده پېښـه، دا پـه زرګونـو لګونـو هېـوادوال پـه وبـا ناروغـۍ مـړه شـوي، کابـل زلزلـو او طبیعـي پېښـو ویجـاړ کـړی، چېـرې ډز نـه دی شـوی، دوی ټـول سـپین بـازان دي!!
مـوږ ډېـر نېکمرغـه یـو چـې یـو رهـبر مـو د شـوروي تېـري لـه املـه د پېښـور پـه اشرفیـه جومـات کـې خلکـو تـه د شـکر اېسـتلو تلقیـن کاوه چـې لـه شـوروي یرغـل سره پـه ملـت او امـت کـې مـتروک جهـاد لـه سره احیـا او ژونـدی شـو!
مـوږ دومـره نېکمرغـه، صابـر او شـاکر ملـت یـو چـې جهـادي- سـیاسي رهبرانـو مـو پخپـل وار د شـوروي/ امریـکا پـه دواړو تېریـو ځانونـه د شـکر پـه سـجده اړ ګڼـل!
مـوږ ډېـر نیکمرغـه یـو چـې رهـبران مـو د هېـواد او خلکـو د دفـاع پـه جګـړو کـې داسـې بوخـت او ډوب وو چـې د خپلـو ارجمندانـو د واده مراسـمو تـه یـې پخپـل هېـواد کـې مخـه نشـوای لیدلـی. دواړو پخپـل غیـاب کـې د بلنـې کارتونـه ګاونـډي هېـواد کـې ووېشـل، مراسـم یـې د ګاونـډي هېـواد پـه هوټلونـو کـې ونیـول، لـه دوی یـو جمهـور رئیـس او بـل صـدر اعظـم و!!
مـوږ نېکمرغـه یـو چـې د یـوه مـشر مـور پـه پېښـور کـې پـه حـق ورسـیده، خـو دی د خپـل هېـواد د فتحـې پـه ورکـه پسـې دومـره لېـرې ورک و چـې د جنـازې کـټ پښـه یـې هـم ونشـوای نیولـی!!
یـو بـل جنګیـالي قومانـدان چـې ټـول واک یـې خپـل پکـول تـه را ټـول کـړی و، کلـه یـې چـې پـه اسـلام آبـاد کـې پـلار پـه ترافیکـي پېښـه کـې ومـړ، ده یـې د فتحـو پـه هـوس کـې لـه ډېـرې بوختیـا پـه جنـازه او تدفیـن کـې برخـه وا نشـوای خیسـتلی!
مـوږ ډېـر نېکمرغـه یـو چـې پـه څـو کالـو کـې مـو یـو شـمېر میلیونـران، بلکـې ملیـاردران شـول، نـه لاس خـوار، نـه پښـه تڼاکـه، وچ پـه وچ پـه داخـل او خـارج کـې بـې حسـابه، بـې کتابـه پانګـې، جایدادونـه او سـوداګري پـه بـډه ووهلـی شـوای، دومـره بختـور چـې لـه مدرسـو مـو جـنرالان او مارشـالان را وځـي، لا یـې مدرسـه بشـپړه کـړې نـه وي چـې د جـنرال، لـوی درسـتیز او مارشـال نښـې یـې پـر اوږو لګیدلـې وي!!
موږ نېکمرغـه یـو چـې د دولـت او حکومـت مـشران لـه دبانـدې د پردیـو پـر ټاکنـو او الوتکـو سـپاره پـه تیـاره را تـه را رسـېږي!
موږ نېکمرغـه یـو چـې پـر سر د جانکـیري د بـاز لـه کښېناسـتو مـو ولسـمشران انتخابېدلـی شي!!
دا زمـوږ امتیـاز، غـوراوی او د اللـه تعالـی فضـل و کـرم دی!
فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ

فضـل خداوند که میسر شود
خوانده و نا خوانده برابر شود

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تر ځمکې لاندې ستوري:
# د قلم نوموړکی سپاهي

**شهرت ننګيال**

نور الدين هنريار لومړی ولسمل صاحب لکه لال په ايرو کې موندلی و، په تهکال کې د ولسمل صاحب کور ته په ننوتو به چې سړی په پوړيو بره وخوت، د افغان مجاهد پراخ دفتر ته به ننووت، هنريار مې لومړی په همدغه دفتر کې وليد.

د افغان مجاهد د پيسټېنګ ورځ وه، بېتر کاغذونه پر غولي پراته وو، د ولسمل صاحب اعصاب له ستوماني نور هم خراب وو، خو د بنډار ظرافتونو، د پخوانيو خاطرو، تاريخي کيسو له را سپړلو يې د طنز وزرې له نورو ورځو زياتې غوړېدلې وې، ځکه خو له ټولې ستوماني سره د هنريار له شونډو د خندا څپه نشواى ټولېدلى.

هنريار را سره په داسې بڼه مخامخ شو لکه له مودو مو له يو بل سره پېژندګلوي وي او د پخې اشنايۍ په مزي پېيلي يو.

د افغان مجاهد خطاطي دده پر غاړه وه، حالات ترينګلي، بلکې ګواښمن وو، چا د مجاهد ولس خطاطۍ ته زړه نشواى کولى او بيا له ولسمل صاحب سره کار کول هم دومره آسانه نه وو.

دلته لومړنى شرط د راز ساتل وو، رازونه او اسرار دې ښايي له ملګريو، کورنۍ او ځان هم پټ ساتلي واى.


هنريار چې د راز ساتلو له ګڼو ازمېښتونو يو په بل پسې بريالى وتلى و، د ولسمل صاحب زړه پرې تکيه او ډاډه و، د ولسمل باور ګټل دومره اسانه نه وو، بايد د رازدارۍ پاخه ثبوتونو ته يې وړاندې کړي واى.

که څه هم ولسمل په ګرانه چاته د رازونو بوخڅه پرانيستلى شواى، خو له هنريار يې نشواى رغېدلى، هنريار دا ټول رازونه خپله سينه کې داسې کولپ ساتل لکه کيلي يې چې سمندر ته غورځولي وي. يوازې د افغان مجاهد، ولسمل او مور نه، د هر چا راز يې راز باله.

د کتاب، مجلې متن- منځپانګه به يې تر هغې خوندي کړې وه چې له چاپه به نه وه را وتلې. دغسې يې په مستعارو نومو د کتاب او مقالو اصليت او حقيقت په کنايه او اشاره هم له چا سره نشواى شريکولى. زه وايم که خاد او ISI هم تر پلټنو لاندې نيولى واى، ښايي کوم راز يې نه واى ترې تر لاسه کړى.

هنريار د خپل ژوند ګاډى د خپل لاس په هنري ګوتو چلاوه، د خطاطۍ له لارې يې خپله کورنۍ پالله، خپله ماته ګوډه يې د خپل هنر په مټو رغوله.

په صبر او توکل د کباېيانو پنډغالي په کوچنۍ ختينه جونګړ ډوله مېنه کې مېشت و، خو پخپل هنر يې دغه ختينه مېنه داسې رنګينه کړې وه چې ماڼۍ او قصرونه نشواى پسې رسېدلى.



هنريار له چا سره د خطاطۍ يا د پېښورو خبره په کتابت ګوتې نه ماتولې، چنو وهلو ته نشواى ور ګرځېدلى، د خپل هنر بيه يې نشواى ټاکلى.

کله يې هم د کتابت يا خطاطۍ پر بيه خپرې نه دي لګولې، چنې يې نه دي وهلې، د صابر او شاکر انسان په توګه يې د ملګرتيا پاس ساتلى. له لومړني ملاقات يې د خپلې ملګرتيا په خوږو اړولې، په هغسې بڼه او کچه لکه له هر چا سره چې ځان په ملګرتيا اړ ګڼي. ملګرتيا ده خپل مجبوريت ګرځولى و، د بازار او مارکېټ، ګټې او زيان سودا ته يې نوک نشواى نيولى.

د جهاد په وروستيو کې چې مهاجر، د خداى مېلمانه پر لوېديز، عربو او پاکستان بوج شول، ګام پر ګام يې پر کډوالو د خپلو نعمتونو ورخونه وتړل، د کباېيانو وړوکى پنډغالى يې په بلډوزرو ونړاوه، د هنريار هنري جونګړه يې هم ويجاړه او له خاورو سره برابره کړه.

د لېونى ارمان پوره شو،
په لاره ځي په کاڼو ولي زيارتونه!

هنريار د کچه ګړى پنډغالي ته کډه شو، له سره يې پخپلو هنري ګوتو په پنډغالي کې د دريو جونګړو کورګى آباد، سمسور او رنګين کړ.

د جهادي خپرنو مرکز له تاسيس سره چې د قلم مجلې خپراوي ته زمينه برابر شوه، هنريار پر مجله سربېره د مرکز د کتابونو خطاطۍ ته هم اوږه ورکړه.

ډاکتر اعظم چې د مرکز لپاره امکانات برابر کړل، کباېيانو ته ځېرمه بيهاري کالونى کې يې ورته دفتر ونيو، له هنريار سره مو اړيکه نوره هم مضبوطه شوه.

په لومړي سر کې موږ ټولو رفيع صاحب، غروال، مرحوم توريالي ځاځي شپه په مرکز کې وه، وروسته چې د رفيع صاحب او غروال کورنۍ راغلې، ما او توريالي ځاځي د جرګانو په څېر کلونه په مرکز کې اړولي وو، هنريار په اونۍ دوو کې له کوره په پخ کړيو خوندورو خوړو نازولو.

هنريار په وروستيو کې د ملي اسلامي محاذ په فرهنګي کمېټه کې دنده موندلې وه، د مجاهدينو عبوري حکومت کې ډاکټر اعظم پوهنې وزارت کې مقرر کړ.

کله چې کمپيوټر د خطاطۍ او خطاطانو ټغر ور ټول کړ، هنريار د کمپيوټر نړۍ ته ور ننووت، په لږه موده کې يې په دغه نړۍ کې د خپلې فتحې د توغ په رپولو ځان ته هغسې ځاى وموند چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوې مشهورې پاکستانی چاپخونې په دنده وګوماره.
هنریار په دغه چاپخونه کې خپل جوهر او هنر دومره وځلاوه چې د یادې چاپخونې له اړخه یې د پېښور تعلیمي بورډ د ازموینو ځانګې ته مخه وموندله، د ټولې صوبې د میټرېک ازمویني سوالونه دده په ګوتو کمپوز کېدل. هلته چې د پاکستان ۲۲ ګرېډ افسرانو د ننوتو مخه نشوای موندلی یوه افغان کډوال د ټولې صوبې په کچه د ازموینو برخلیک پخپل لاس کې اخیستی و، که هنریار غوښتي وای، میلیونر به را وتلی و، چې کال کې یې یوه پارچه هم اوټ کړې او سلو تنو ته سوالونه ښودلي وای، د هنریار په ژوند کې به د اقتصادي ناخوالو کومه نښه نه وی پاتې، خو هنریار هلته هم پخپل مضبوط ایمان په ور سپارلي امانت کې کوم خیانت ونکړ.
په ۲۰۰۳ز کې چې له ولایته پېښور ته راغلم، کچه ګړی پنډغالی د کبابیانو په څېر په بلډوزرو پر بل مخ اړول شوی و، نه د جومات نښه پاتې وه، نه د هدیرې شناخته!
د کډوالو په مټو او خولو اباد او سمسور پنډغالی د اغزن تار تر منځ اواره دښته ګرځېدلی و. په زړه کې را وګرځېدل، هنریار به په دویم ځلي پنډغالي کې د خپلې مېنې له ویجاړې، چېرته کومه جونګړه موندلی وي؟!
وروسته خبر شوم چې هنریار هېواد ته لېږدېدلی، د ننګرهار روغتیا ریاست کې یې د اداري مدیر په توګه دنده موندلې، ورور مې ډاکتر فضل هادي چې ننګرهار کې دنده لرله د یو بل له حال احوال خبرولو، خو لندن ته د هغه په تلو مې بیا ورسره د اړیکو بله ذریعه ونشوای موندلی.
میاشت وړاندې ډاکتر فضل هادي د هنریار له ناڅاپي مړینې خبر کړم، دا وخت نږدې څلور میاشتې دده په وفات اوښتې وې، یو وار بیا مې پر ځان تو کړل، له دې بله بدمرغي څه کېدای شي چې څوک دې د خپل خواږه ملګري پر مرګ څلور میاشتې پس خبر شي، نه یې د کټ پښه ونیولی شي، نه یې فاتحه کې لپې پورته کړای شي، نه یې له کورنۍ سره د غمرازۍ مخه ومومي.
اوښکې او ساندې سرې د وجدان له عذابه ژغورلی شي؟
وایي، هنریار روغ جوړ و چې په دفتر کې د زړه له حملې په حق ورسېد.
هنریار سلګونه ادبي، سیاسي، دیني کتابونه مجلې پخپلو هنري ګوتو کښلي او د چاپ جوګه ګرځولي، خو د بې ارزۍ او ناقدرۍ په کرخت چاپېریال کې د قلم نوموړکی سپاهي پاتې شو.

# پایه‌های لرزان

**مصطفی عمرزی**



تشبیه پایه های لرزان، بی شباهت به پایه های سیستم است. منظور افراد و اشخاصی ست که تیم سیاسی حکومت کنونی را می سازند؛ هرچند تظاهر به اراده ی سیاسی، مسوولان را به نمادگرایی رسانه یی کشانده، اما تلاش ها برای احاطه ی سیستم، شبیه پایه های لرزانی ست که سعی می کنند با انبوه سازی، از ارتعاش آن بکاهند.
فکر می شود مشی نادرست حکومتداران کنونی، آنان را هراسان کرده، اما این افاده به این معنی نیست که خود متوجه چنین مساله ای شده اند. عموماً در به دنبال فرصت، از هیاهوی رسانه یی تا جهت کمپاین ها، تیمی که روی شانس ها، امید ها و فرصت های مردم پا گذاشت، از این نیز می ترسد که پرستیژی گروهی کاهش یافته است که برای اولین بار در تاریخ افغانستان، منحصر به فرد، ولو به حد یک شخص، دانسته می شد.
عوامل بیرون حکومت، چه در سطح فشار های تنازع داخلی، چه به سطح تماس های بیرونی، متاسفانه به گونه ای موثر واقع نمی شوند که با درک آن ها، عدم انعطاف حکومت کنونی، وضعیت را خراب تر نکند.
در حالی که صلح، به غایه ی اصلی افغان ها مبدل شده است، صحبت از آرایش نظامی در جوی که طرف مهم حمایت از افغانستان یا امریکا، به تفاهم رو آورده است، حکومت را در تنگنای دیگری نیز خورد خواهد کرد که بدون محاسبه، از حمایت های خارجی، توقع دارد.
آن چه در این میان بسیار مهم می باشد، همسویی سیاست های دولت با جامعه ی جهانی، به ویژه ایالات متحده ی امریکاست. این همسویی به حکومتداران کمک می کند، حداقل با وقایه ی خویش در برابر تبعاتی که پی آمد های صلح دارند، به گونه ای منزوی نشود که از حالا آنان را هراسان می کند.
باوجود نارضایتی ها، تیم حاکم کنونی با وقوف از درون مشکلات، می تواند در حکومتی سهم بگیرد که از رهگذر افاده ی آن ها، آن چه قرار است در آینده، برنامه های رفاهی شوند، از آسیب های بیشتر در امان بمانند.
ارتعاش سیاسی، افزون بر رییس جمهور در سطوح مختلف حکومت، سرایت کرده است؛ هرچند استند افرادی که با محافظه کاری، سعی می کنند از عوارض منش سلیقه یی کنار بمانند، اما اصرار حکومتداران که روی وفاداری حساس است، به گونه ای باعث شده، تعداد زیادتری درگیر سلایق شوند.
حساسیت های بی جا و بدتر از همه غیر منطقی در قبال رویداد هایی که با وزنه ها و توجیهات مختلف رونما می شوند، دولت را از تعقلی که لازم است، دورتر می کنند. در چنین حال و هوایی که ارتعاش سیاسی، راس حکومت را دربر گرفته، این نگرانی را بیشتر می سازند که با تداوم خودشیفته گی یا اصرار بر بقا، امکانات دولتی، به گونه ای ضایع شوند که مثلاً در قبال پروسه ی صلح، سبوتاژ حکومتی، نمایان تر می شود.
هشدار و مراقبت، لازمه های درک عمومی جامعه ی افغانی اند، زیرا صورت حال تنازع، روش ها و فرهنگ سازی ها، ابعادی دارند که بایسته است در میزان منافع، دست آورد ها و حیات مدنی ما، نباید از چشم بیافتند. به این دلیل، پذیرش صلح را به معنی وجوب شرایط بهتر می پذیریم.
شاید شماری با رفتار خاص، به ابعاد موضوع، توجه نداشته باشند. سوء رفتار در افراد و اشخاصی دیده می شود که معاضدت با تیم حاکم را از کل سیستم، مجزا نمی کنند. منطق ما این است که باید با اصلاحات، جلو کسانی را بگیریم که دیگر موثریت ندارند؛ نه این که به نام صلح، نظامی را تضعیف کنیم که به سختی احیاء شده است. تداوم این منطق، ایجاب می کند اصرار کنیم، پروسه ی صلح با بدیلی توام شود که افزون بر تامین امنیت، نوع ریفورم سیاسی بدیل می شود.
سعی کنیم از ریزش پایه های لرزان حکومت، جلوگیری کنیم. این مامول، با بدیل افراد و اشخاص راس، قوام می یابد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دولتي مناصب، نامسلکي افراد او ګومارنې او د خلکو شکايت

**ليکوال: ډګروال عبدالاول "بشارت"**

زموږ په وطن کې د نورو ستونزو تر څنګ يوه ستره ستونزه د دولت او حکومت په مخ کې همېشه د استخدام يا ګومارنې په وخت کې د خلکو شکايت وي چې ګواکې د ګومارنې په وخت کې اصول او قوانين تر پښو لاندې کېږي او روابط په ضوابطو حاکميت پيدا کوي، حق حقدار ته نه رسېږي. هغه څوک چې واسطه او وسيله ونه لري، هغوی ته د دولت په دستګاه کې ځای نه پيدا کېږي او...

تر ډېره بريده دا ستونزې په ډېرو وزارتخانو کې واقعيت هم لري او د هېوادوالو شکايت پر ځای دی. دولت مو مسووليت لري چې د ټولنې د وګړيو د حقوقو د خونديتوب لپاره پدې اړه لازم اقدامات وکړي او داسې يو معياري سيستم را منځته کړي چې د يادې ستونزې په له منځه وړلو کې کومک وکړي او د خلکو باور د ګومارنې په پروسه بېرته له سره احياء کړي.

د ګومارنې په اړه د نړيوالو وضعي قوانينو تر څنګ، د الهي امر مصداق او معنا هم ډېر واضح چې الله ﷻ فرمايي:

اِنَّ اللّـهَ يَاْمُرُواکُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمَانَاتِ اِلاَ اَهْلِهَا! الاية

خدای ﷻ ټولو مسلمانانو ته امر کوي چې امانات مو اهل ته وسپارئ. امانات او اهل دواړه عامي کلمې دي، هره کلمه يوه عامه او پراخه معنا لري؛ مثلاً:

امانات!

امانت شرعاً هر هغه څه ته ويل کېږي چې تاسې ته د يوه کس لخوا در کړل شوي وي چې خوندي بل کس ته وسپارئ، يعنې د تصرف حق پکې ونه لرئ؛

هغه که جنس وي، که خبره وي، مادي وي، که معنوي، که کوم بل څه وي؛ خو مسووليت يې د خوندي رسولو در سپارل شوی وي؛

دولتي او حکومتي مناصب، چوکۍ مقام او موقفونه هم ټول د ولس او هېواد امانت دي؛

بيت المال او عامه شتمني او... هم امانات دي، دا ټول به د پورتني آيت شريف له حکم سره سم، خپل اهل ته سپارئ، که چېرته يې اهل ته ونه سپارئ، نو مسووليت يې د هغه چا په غاړه دی، چا چې د تاييد او رد صلاحيت درلود.

په بل حديث شريف کې داسې راځي:

اِذَا وُصِّلَ الْاَمْرُ اِلی غَيْرِ اَهْلِهِ فَاَنْتَظِرِ السّٰاعَةَ (الحديث).

که چېرته يو امر، يا يو کار، يا يو منصب او مقام داسې کس ته وسپارل شو چې اهليت يې نه درلود، نو د قيامت په تمه و اوسئ!

مفسرين د قيامت د تمې دوه رقمه تفسير ليکي، يا خو دا ده چې پدې کار سره خدای ﷻ دومره ناراضه کېږي چې نور بايد دا نړۍ ړنګه کړي او يا هدف دادی چې خپله به دغه کار چې نا اهله ته سپارل شوی، قيامت به پرې راشي، يعنې تخريب به شي، ړنګ او منهدم به شي، ښه مطلوبه نتيجه به ورنکړي او...

اوس دلته د کار اهلکار ته سپارلو په فلسفه کې ځينې خلک فکر کوي چې دلته د «اهل» مطلب او مفهوم تنها استعداد، علميت او وړتيا ده، پداسې حال کې چې وړتيا او استعداد، اهليت نه! بلکې د اهليت له فکتورونو يا رکنونو څخه يو رکن دی چې د اهليت ارکان پرې بشپړ کېږي.

په اهليت کې د استعداد او وړتيا تر څنګ تعهد، سپېڅلتيا، ژمنتيا، منزه وجدان، پاکوالی، احساس، عاطفه امانتداري په کار بشپړ تسلط، بلدتيا، ښه سابقه او نور زيات فکتورونه هم شامل دي چې د اهليت بشپړتيا تضمينوي.

دا چې په افغانستان کې ډيموکراسۍ بېخي نوی پل اخيستی دی، جمهوريت هم نوی د تجربې په حال کې دی، ملي وحدت هم د معاصر او لرغوني تاريخ هم د بل هر دور او زمان په نسبت په تېرو اتلسو کلونو کې ډېر د پلي کېدنې او تجربه کېدنې په حالت کې دی. انساني او بشري طبقاتي وېشونه او دوديز قبيلوي او قومي تشکيلونه هم لزوماً په ډيموکراتيکو او بشري حرکتونو اوښتي دي. په هېواد کې مو جګړه هم په شدت سره روانه ده او هره ورځ مو هېوادوال قرباني ورکوي، نو ددې هر ډول پديدو، ستونزو او مشکلاتو د امتحانېدلو او ازمايښت په صورت کې اوس افغانستان دومره امکانات نه لري چې د ګومارنې پر وخت د يو کادر او مدير د اهليت ټول رکنونه همزمان امتحان کړي. بس د شرايطو له تقاضا سره سم چې لږ فيټ او برابر شو او ځينې ارکان په يوه کانديد کې موجود شو، بس هماغه سم او وړ کادر دی.

دا ستونزې په مرور د زمان سره کرار کرار حلېږي، ځوانان مو اوسمهال سخت زيات د ويښېدلو ، تعالي او ترقي په حال کې دي. که چېرته مو د هېواد اوسنی وضعيت منفي خوا ته تغير ونکړي او همدغسې مخ په وده او پراختيا روان وي. ډېر ژر به يو وخت داسې راشي چې د افغانستان ۹۰ سلنه مامورين به ټول بلا استثناء د اهليت ټول رکنونه په ځان کې همزمان ولري او په ټولو معيارونو به برابر استخدام ولرو .

اوسني مجبوريتونه، محدوديتونه، شرايط او حالات بايد ټول درک کړو او له خپل دولت سره د شکايت په عوض، د فساد په ضد په مبارزه کې همکار و اوسو.

وطن مو له يوه ستر بحران سره د مخ کېدلو په حال کې دی، له يوې خوا د سولې او روغې جوړې خبرې ګرندۍ او امېدونه زيات شوي دي. له بلې خوا ځينې کړۍ د سولې ددې ملي پروسې د سبوتاژ هڅه کوي او غواړي له درغليو په ډکو ټاکنو د خپل نامشروع اقتدار لمن وغځوي او له بلې خوا جګړې شدت موندلی او هره لحظه مو له بې ګناه هېوادوالو قرباني اخلي.

ولس په يوه مبهم حالت کې قرار لري، اوس د هېواد ځوانانو ته يو څه کول پکار دي!

يوه اندېښنه چې بېړنی ځواب غواړي:

وطن له ډېر بد وضعيت څخه تېرېږي، د وطن رښتيني خلک څه نشي کولای، ځکه تش لاس دي او هېڅ نوعه اجرائيوي صلاحيت نه لري او نه څوک ورته غوږ نيسي. بد خلک د نظام په رګ رګ کې لکه ماران ور ننوتي، ټول واک او صلاحيتونه، مادي او معنوي امکانات له دوی سره دي، که يې په خلاف غږ پورته کوي غږ دې په مرګ او تهديد در خفه کوي، که نه يې پورته کوي سرې ځورېږي او متضرر کېږي. د سر سړي د کار سړي يو يو مستقيماً په نښه کېږي، وژل کېږي او قاتل يې هم معلوم نه دی. نه چارواکي او حاکمان وطن ته صادق دي، نه سياسي مخالفين، نه طالب، نه ګاونډيان او نه هم نړيواله ټولنه. يوه ډله دوه پاسپورټه له خارجه را توريد شوي، سره خوله ماشومان چې نه زموږ په کلتور او فرهنګ بلد دي او نه د هېواد په جغرافيه او اراضي خبر دي، د وطن د سرمايې په چور او تالان پسې لګيا دي.

بله ډله د واک او اقتدار د تر لاسه کولو لپاره ولس ته هر نوع دوکه او فرېب ورکوي، بله ډله د مرګونو قباله په لاس د سر سړي لټوي. يوازنۍ هيله مو ځوانان دي، يو څه عاجل اقدام کول پکار دي، که نه ټول لکه پسونه د قصاب په غولي ولاړ يو. ددې وطن نجات پر موږ ټولو فرض عين دی.

دا وطن ددې څو محدودو او معدودو خلکو نه دی، راځئ! ددې وطن د اصلي مالکينو په توګه هم حکومت، هم طالب، هم امريکا او هم ګاونډي ته په زغرده ووايو، په وطن او ارزښتونو مو معامله راته د منلو وړ نه ده! او موږ هېڅاته اجازه نه ورکوو چې زموږ په برخليک تر دې اضافه لوبې وکړي.

زموږ لپاره ژوند مهم دی او ژوند په سوله کې دی، زما غريب او مظلوم ولس د سولې د راتګ لپاره سرې او زرغونې کرښې نه لري، موږ د جګړې توقف د يوه عام اوربند په ترڅ کې غواړو او بس...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قلم ګیله؟

**جبران جبرائیلي**

زه چې کله هم د افغانستان په دې غیر یقیني او مجهول حالت د یو څه لیکلو تابعه وکړم او قلم ته ګوتې ور وړم، نو قلم رانه پوښتنه کوي، ته دا لیکل د چا لپاره کوې؟!

کله کله خو رانه داسې نا اشنا پوښتنې کوي چې زه هم ورته ګوته په غاښ شم، ته ولې د یو داسې قوم لپاره لیکل کوې چې ټول عمر یې په وینو کې مزل کړی؟! وینې څښي، وینې تویوي، په وینو کې لامبي، په وینو کې را لوی شوی او په وینو کې مري، خو تر اوسه لا د دوست او دښمن بېلتون نشي کولی؟!!

دوی خو د خپل کور او وطن په ویجاړولو کې لوړ مقامونه لري، په ورور وژنه کې مډالونه اخلي، په غلامۍ نه شرمېږي، تل د بل چا په دروازه کې ولاړ وي، د قسمت فیصلې یې غلیمان کوي، په جنازو او پرې شویو اندامونو یې د چا وېښته قدرې هم نه خوځېږي.

دا خوران خو پخپل کور کې بې واکه او بې کوره دي، د دوی وینه خو له اوبو نه هم ارزانه ده، له وطن نه په فرار فخر او خیراتونه کوي، خو ته بیا هم ددې ناولو، بدمخیو، پردیپالو او دبرېمارو په خاطر ما بار بار سکوندې، ولې؟!!

دوی خو د فارمې چرګوړیو په څېر حلالېږي، خو له خولې آخ قدرې هم نه باسي.

د کونډو او یتیمانو په لښکرو یې زړونه هم نه سوځي، له خدایه هم نه ډارېږي، په مجلسونو او محفلونو کې د فرعون استازولي کوي، د قیامت او اخرت خیالونه یې له سره وتلي دي، د ورور د مرۍ پرې کولو په وخت هم د الله اکبر ناره وهي، د زرګونو انسانانو قاتلانو ته قهرمانان وایي، د خپلو خوېندو-مېندو په لیلام شویو عزتونو غوږ هم نه ګروي!!

د کافر په دوستۍ من- من غوښې اخلي، د انسان او مسلمان په بې‌عزتۍ کې خپل عزت لټوي، تل پردیو ډولونو ته نڅېږي، د پردیو قصیدې وایي، د ځمکې خدایانو ته سجدې کوي، قاضیان یې د رشوت په خاطر په خلکو لنګې غواګانې څرڅوي، امامان یې په جوماتونو کې بې تنخوا الله اکبر هم نه وایي...

خو ته بیا هم غواړې د داسې بې ننګو او بې غیرتو لپاره پر ما د کاغذونو مخونه تور کړې!!!

ګوره! دوی ته غلا، رشوت، غصب او بې‌حیایي د مچ وزر هم نه ښکاري، په دې کارونو دوی ځانته ښاغلي وایي! حرام، ناروا، بې ایماني او د خلکو تېر وېستلو ته هنر وایي!!

شرابو، زناګانو او فضول خرچۍ ته د ازاد خیالۍ نوم ورکوي، د خپل شهرت لپاره عمرې او حجونه کوي، غریب ته لاس ورکول خپل توهین ګڼي، په ودونو کې ډالرې شیندي، خو د هوټل مخې ته ناستو سرتورو ته پدر لعنت او فاحشه وایي...

له خپل کلتوره ناخبره دي، خلکو ته یې اسلام رسولی، خو خلک اوس هم د دوی په مسلمانۍ شکمن دي!!

د خپل سیند او ویالې اوبه ورته مُضر صحت ښکاري، د خارجي اوبو بوتلونه له ځان سره ګرځوي!!!

ګوره جبرانه! زه ددې بې‌غیرته قوم لپاره خپل ضمیر او وجدان د جوارۍ په پړ نه بږدم، د دوی خو اتحاد او اتفاق ته ملا ماته ده په لوی لاس یې پر ځان ښاماران حاکمان کړي، له ګاونډیانو سره د دوی د سیالۍ جذبه صفر ده.

معادنونه یې غله او شوکماران استخراجوي، بازارونه یې له سوالګرو ډک دي، د بچیانو د جسدونو پر ځای یې په تابوتونو کې تیرې خاورو ته سپارل کېږي، خو دوی د بامیانو د بُتانو په څېر هېڅ هم نه وایي...

وطن یې په نړۍ کې لومړۍ درجه فاسد ملک دی، پلازمېنه یې د لسو ککړو هېوادونو د پلازمېنو په سر کې راځي، په جاسوسۍ افتخار کوي، واکداران یې د دوو خرو اوربشې هم نشي بېلولی، مقام او څوکۍ یې په ډالرو پلرول کېږي، د بلند منزلو په ځغل کې یو له بله مخکې کېږي، په پردیو ملکونو کې د سپیو په وینځلو نه شرمېږي، خو د خپل کور د مخې په صفایي ورته ځان سپک ښکاري...

جبرانه! سر خلاص کړه! د خارجیانو سپي بد بوی، غل او پوډري پېژني، خو دا سرکوزي یې په رڼو سترګو په هر څه سترګې پټوي، دوی د نیکونو په کارنامو فخر کوي، خو د خپلې بې‌غیرتۍ ښکرونه نه ویني. په جلسو کې بړ بړ غړېږي، خو له نابلل شویو مېلمنو نه خپل موټر هم نشي مخکې کولی... افسوس چې ته اوس هم ما ددې بې‌ننګو لپاره کاروې!!

دوی خو په ځان‌وژنه کې نړۍ‌وال شهرت لري! هدیرې، مکتبونه، مدرسې او د خدای کورونه سوځوي، د کار سرونه پرېکوي، د برېښنا لینونه پرېکوي، تیاره خوروي، د مدرسو او ښوونځیو دروازې تړي، هر څه ویجاړوي، له مرګونو خوندونه اخلي، دا د فیل په غوږ کې ویده خلک په دې نه ارزي چې ته ورته په زخمي زړه او زخمي ګوتو څه ولیکې!

پخوا دنیا د غوایي پر ښکر ولاړه وه، اوس دوی دنیا پخپلو ښکرونو ولاړه ګوري. دوی خو په رښتیا ویلو د خلکو ژبې پرېکوي، حق لیکونکي قلمونه ماتوي، د خپل ځان د بقا په خاطر د ککریو په پرېکولو بوخت دي، ملایان یې د حج او زکات مسئلې بیانوي، د مسلمانانو په بې ګناه وژلو یې خوله په انبور هم نه خلاصېږي، خارنوالانو یې د چور شپېلۍ وهلې ده، مانۍ مېشتي یې د معتادینو له علاجه ناعلاجه دي...

ګوره زما ذکر په قرآن‌کریم کې شوی، خو دوی قرآنونه په تاخچو کې ساتي، دوی زما په قدر نه پوهېږي، پرېږده چې دوی له بې شمېره ښځو د حرامو پیسو له ګڼلو او ضدِ مرمۍ موټرو نه خوندونه واخلي!!

د دوی اصلاح ګرانه ده، هسې ځان مه سترې کوه، دلته د پردې تر شا ډېرې بلا کیسې پرتې دي!

ګوره زه او ته د شپږو لسیزو ملګري یو، که دې خاورې بیا نوی (امان، غزنوي، هوتکي او احمد خان وزیږاوه)، نو بیا در سره شپه او ورځ د کاغذونو مخونه توروم، حق وایم، حق لیکم او د حق لپاره هرې قربانۍ ته حاضر یم!

ګوره! زه نه په غارونو ننوځم، نه له وطنه تښتم او نه د چا باداري منم، دا یو بیت زما له خوا دې غم‌ځپلي ولس ته ولیکه چې په نن، پرون او سبا یې سر خلاص شي:

د حالاتو د توندۍ خبرې څه دي
یو تناکه ده یو چوي بله را خېژي

## پراډاکس

**اسد دانش**

پوهېږئ! غازي امان الله خان ولې هېواد پرېښود؟!!

ولسونه یې مخې ته راغلل، ورته وې ویل، اې زموږ ګرانه پاچا! موږ چاته پرېږدې؟ ولې رانه ځې؟!

موږ ټول در سره یو، موږ به دا غله او ورسره ټول مله را و پرځوو، وبه یې شړو، وبه یې وژنو! خو ته مه ځه!

پوهېږئ! همایوني ذات څه ورته وویل؟!

هغه ورته وویل: زه نه غواړم زما نېک زامن، زما بد زامن ووژني، زه نه غواړم پدې وطن کې نوره وینه تویه شي...

اوس به را شو دې ته چې زموږ مفکرِ نمبر دو(!) هم غواړي چې د امانَ فصلِ ناتمام بشپړ او اماني فکر له سره ورغوي، د اماني فکر رغوونکي ډېر کړي!

ښه څه دا کار به وکړي، خو دی چې خپله د اماني فکر پلوی ندی دا به څنګه کړي؟!!

اعلیحضرت غازي امان الله خان خو ان خپلو دښمنانو وطنوالو ته زامن ویل (بد زامن) او د هغوی وژنګ یې نه غوښت! خو مفکرِ نمبر دو لګیا دی هره ورځ د سولې کیسه سبوتاژ کوي، چېلکونه ور اچوي، د امریکې په کانګرېس کې یې لابي‌ګرۍ پیل کړې چې تر سولې ټاکنې اړینې او د افغان ولس لومړیتوب دی!

زه د جانان له غمه مرم ته د خپل ځان له غمه
زاهده ستا ثواب زما ګناه ته چرته رسي

**(له فېسبوک څخه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاندار جشن

**د هېواد د خپلواکۍ د سلمي کليزې نه څو مياشتې مخکې د افغانستان دولت څو ځلې اعلانونه وکړل، چې سږکال به د هېواد د استقلال ورځ په خورا شاندارو مراسمو نمانځي. د همدې موخې لپاره يې دا هم اعلان کړه، چې د دې چارې لپاره يې په سوونو ميليونه افغانۍ ځانګړې کړې. د يادې خبرې په اورېدو سره ځينو ويل، چې د يوه بېوزله هېواد لپاره، چې خلک يې له لوږې مري، دومره ډېرې پيسې لګول، مناسب کار نه دی، خو ډېرو افغانانو دا استدلال کاوه، چې اوسني سياسي وضعيت ته په کتو او د سلو کلونو په پوره کېدو دا ښه ده، چې د خپلواکۍ ورځ په شانداره توګه ونمانځل شي. د دوهمې ډلې انګېرنه همدا وه، چې له دې سره به د هېواد د داخلي او بهرنيو دښمنانو زړونه وچوي او هم به امريکايانو ته دا جوته شي، چې افغان ملت يو خپلواک او ازادي خوښوونکی ملت دی.**

د شانداره جشن د بيا بيا تکرار سره هر يوه دا فکر کاوه، چې د کابل ښار به له رنګه بيرغونو ډک، پر هر سړک به ګروپونه راځړېدلي او د غازي امان الله خان ستر انځورونه به په څلور لاريو کې ولاړ او ټول ښار به ترانو پر سر راخيستی وي.

خلکو همدې ورځې ته سترګې څلور کړې وې، دا سمه ده، چې يوه ورځ مخکې ترې د واده په يوه هوټل کې ناوړه پېښه وشوه، خو دا پېښه کله هم دا توجيه کولای نه شي، چې ګواکې جشن د همدې له امله پيکه شو. د شانداره جشن ټوله خواري په همدې کې راټوله شوې وه، چې د ښار پر څو محدودو سړکونو دې بيرغونه وي او د شپې له خوا دې پر درې څلورو جادو رنګه ګروپونه د ونو لاندې اېښودل شوي وي.

وايي چې ( په اخوند ښوروا هم ډېره ده)، د هېواد د امنيتي حالاتو ته په کتو دا هم ستر کار و، چې د نورو کلونو په پرتله په کې حکومت فعال ښکاره کېده، د نړۍ په څو هېوادونو کې د شپې له خوا د افغانستان ملي بيرغ وښودل شو، خو هغو مادي امکاناتو ته چې حکومت ورته ټاکلي و، که وکتل شي، نو دا له ورايه ښکاري، چې په تېر جشن کې هغو چارواکيو، چې لګښتونه يې په لاس کې وو، پوره غبن او بې کفايتي تر سره شوې ده. دغو خلکو په خورا چالاکۍ داسې کار کړی و، چې نه سيخ وسوځي او نه کباب. د دې خبرې د ثبوت لپاره به همدا بس وي، چې د خپلواکۍ د يوه کليپ لپاره مې داسې يو ځای په کار و، چې هورې ډېر ملي بيرغونه وي، خو درېغه ما په ټول ښار کې داسې يو ځای ونه موند. لنډه دا هغه شپه هم راورسېده، چې د خپلواکۍ شاندار جشن يوازې د دارلامان ماڼۍ په پرانيستونکې غونډه کې په کې خلاصه شي. ماڼۍ په رښتيا هم ښه ښکاره کېده، د استاذ اولمير ترانو ستر کيف کاوه، خو ورسره د پسات بېلګې هم جوختې روانې وې. د ولسمشر په راتګ سره يو ډله چاپلوسان د اوږده واټن په تګ سره رېورس روان و. يو کس، چې اوږد بوم (د غږ ثبتولو اله) ورسره وه، په شا روان او له کمرې نه يې د هغه څېره پناه کړې وه. د حيرانۍ ځای دا و، چې هغه ته چا هم ونه ويل، چې له دې کاره دې موخه څه ده؟! دا اله خو هغه وخت پکارېږي، چې څوک خبرې کوي، حال دا چې هغه يوازې مزل کاوه او تا ورته خولې ته نيولې ده؟! قاري صيب ته دې هم خدای خير ورکړي، په تلاوت کې يې داسې عجيب او غريب انداز خپل کړ، لکه حواس يې چې له لاسه ورکړي وي. د غونډې په يوې برخې کې د مستند فلم په نامه يو څه پيل شول. فلم څه د چارواکيو هغه عکسونه وو، چې شپه او ورځ يې په فيسبوک کې خلکويني. که چېرته چاپلوسان او بې هنره خلک نه وای، نو په دومره موده کې په غازي امان الله خان يو ښکلی تاريخي مستند فلم جوړېدای شو.

خو پوښتنه دا ده، چې دا کار ولې ونه شو؟ ځواب يې دا دی، چې دلته له اولسمشر نه داسې خلک راټول دي، چې يا خو په پسات کې کګړ دي او يا هم هنري وړتيا او استعداد نه لري. که داسې نه وای، لږ تر لږه به خو يې ولسمشر ته دا مشوره ورکړې وای، چې داسې چارې څوک کولای شي؟! يوې اداري چې په څلوېښتو کلونو کې د پنځو دقيقو يو تلوېزوني کليپ نه وي جوړ کړی، هغوی به د هنري او مستند فلم په جوړولو څنګه پوه شي. که موږ ووايو، چې د فرهنګي سلاکارانو کمی دی، نو دا خو ځکه سمه نه ده، چې سلاکاران خو د ننګرهار د ګلپيانو غونډې خورا ډېر دي.

يو څه هغه وخت عالي کېدای شي، چې کوونکي يې پاک، په کار پوه او په هېواد مين خلک وي. که حکومت د پنځه سوه پر ځای زر ميليونه افغانۍ هم ولګوي، تر هغې چې غله، چاپلوس او بې هنره کدرونه له ځانه لرې نه کړي، نو هېڅ شی به يې هم شاندار نه شي. افسوس دې وي، د هغه خلکو پر حال، چې په پوره بېوجدانۍ يې ځانونه په ځايونو کې ټومبلي، خو په عمل کې بيا خپله وړتيا نه شي جوتولای. همدا ډلې دي، چې کلونه کلونه يې پر ارزښتونو ملنډې ووهلې او لا تر اوسه يې په پوره سپين سترګۍ پر هغه څه منګولې خښې کړي، چې دوی يې وړ نه دي!!

له فيسبوک څخه

**د مفکر باچا ملګريو ته ديني مشوره!**

**يَأَيهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لا تَفعَلُونَ.**

**مفسرين د لوړ مبارک آيت په تفسير کې فرمايي:**


**په درواغو د هغه څه ژمنې مه کوئ چې نه يې شئ تر سره کولی، يا يې د تر سره کولو مخه نه وينئ، يا ګرد سره تر سره کېدلی نشي!**

**مانا د دروغو وعدې مه کوئ!**

**هغه څه مه وايئ چې خپله پرې عمل نه کوئ، له نورو هغه څه مه غواړئ چې خپله يې نه تر سره کوئ!**

**اسلام د عمل دين دی، بلکې اسلام سراسر عمل دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رهبری هستریک

**مصطفی عمرزی**

سخنرانی ها، فلم ها و تصاویر زیاد دکتور غنی را دیده ایم. او در اکثر آن ها، به عنوان شخص عصبی مزاج، پرخاشگر و تندخو به نظر می رسد. بخشی از این کنش های رییس جمهور، اگر بهِ اثر برداشت او از مسایل است، اما اکثراً ناشی از طبیعت او می باشد. دکتور غنی، قبل از این که در زمینهٍ ی حاکمیت حامد کرزی شناخته شود، اصلاً محسوس نبود.

داستان ها و بالاخره روایت هایی از شیوه ی برخود مردی که به اصطلاح تر و خشک را می سوزاند، از اوانی که دکتور غنی در رده های دولتی ظاهر شد، میان همه تبادل می شدند.

وزارت مالیه و ریاست پوهنتون کابل، دو نهادی اند که از کارکرد های دکتور غنی، بیشتر به یاد می مانند؛ هرچند در پوهنتون کابل، مدت زیادی نماند، اما کارنامه ی او در وزارتِ مالیه، تعداد زیادی را آزرده ساخت. عموماً عصبانیت بی حد دکتور غنی که به اثر درگیری او با بیماری سرطان به وجود آمده، باوجود تداوی، اثرات زیادی بر سلامت جسمی او گذاشته است. افزون براین، مقام تفکر دوم که به گونه ی رسانه یی، همه را غافلگیر ساخت، او را به شخصیتی مبدل می کند تا از هر دو رهگذر، انعطاف نداشته باشد.

اعتماد به نفس بیش از حد که گویا پدیده ی «ابرنخبه» واقع شده است، بسیاری را از تنقیدی حذر داد که بایسته بود دریغ نمی کردند؛ هرچند واکنش دکتور غنی به انتقادات، از مهارت هایی بهره می برد که او را قادر ساخته اند در جوِ تبلیغاتی، مسایل را منحرف کنند. مثلاً در جواب خبرنگاری که گفته بود قدرت را انحصار کرده است، با نمایش طول و تفصیل دولتی و کمیسیون ها، وانمود می کند که در چنین ساختاری که صدها تن در راس قرار دارند، ادعای انحصار مخالفان، نادرست است.

یکی از اقارب من (مرحوم داکتر لیث نوابی) که بی هیچ شائبه ای از زمانی که دکتور غنی در دومین انتخابات ریاست جمهوری با حامد کرزی، پس از داکتر بشر دوست، کم آورد با او همکاری کرده بود و متاسفانه پس از رسیدن متفکر دوم به قدرت، در جمع صد ها تن نخبه گانی که در تیم تحول و تداوم با دکتور غنی، صادقانه کمک کرده بودند، در نخست توهین و بعد طرد می شوند، خاطراتی نقل کرده است که روایت های تاسفبار از شخصیت دکتور غنی بودند.

تا زمانی که اشتباهات فاحش دکتور غنی، مستند نشده بودند، کتمان مشکلات جسمی، روانی و صحی وی، مردم را در ابهام می گذاشت، اما قایل شدن به شرک که در مراسم عاشورا، امام حسین را منسوب به الله کرد و ردیفی از اشتباهات گفتاری که بیشتر جنبه ی مذهبی داشتند، او را به انعطاف اجباری می کشانند. چنان چه آوردم، اعتماد به نفس کاذب، دکتور غنی را در جایی قرار داده بود و می دهد که هیچ کسی را برتر از خودش نمی داند.

اعترافات جان کری، وزیر خارجه ی پیشین ایالات متحده ی امریکا، مبنی بر این که دکتور غنی، تجربه ی سیاسی نداشت، حقیقتِ تلخ دیگری بود که بسیاری از حامیان او بعداً دریافتند. در چنین اوضاع و زمینه هایی، دکتور غنی با خاصیت هیستریک، به فراز و فرود جامعه ی افغانی رو آورد و بدتر از همه، به گونه ای عمل کرد که گویا نیازی به تجربه ندارد.

تلاش کنونی رییس دولت که با تمام توان سعی می کند پروسه ی صلح را مُختل کند، جزو گمان هایی بود که بعضی می کردند. عدمِ برداشت تنقیدات و مخالفت هایی که اکثراً موجه اند، رُخ ناراحت کننده ی دیگری ست که دکتور غنی با اغماض به حامیان داخلی، به خصوص قشر تحصیل کرده، با تعیینات افراد گمنام و خارج زده که با منطق زبان انگلیسی، در جامعه ای تحمیل می شوند که اگر استثناآت را کنار بگذاریم، 99 درصد مردم ما در مسایل روزمره ی زنده گی، هیچ نیازی به زبان انگلیسی ندارند.

اوج حالت هیستریک دکتور غنی با افزایش صدای او واقع می شود. احساساتی شدن از این منظر، اگر جاذبه ی موقتی ایجاد کند، ثبت و انعکاس رسانه یی آن، به همان میزان تخریش کننده است؛ چه حالت هیستریک، مانع تعقل و خوداری های مورد نیاز می شود.

حکومت وحدت ملی که ابتکار دکتور غنی بود، از همان آغاز برای چیز فهمان پیام داد که متاسفانه این مرد محترم و تحصیل کرده، در ساحه ای وارد شده است که با ظرفیت ها، گذشته و تجربیات او، مصداق کسانی قرار می گرفت که از آغاز انتقادات بر وی، اذعان می کردند گذشته ی کاری او در محدوده های کوچک و بسته ی سیستم غربی که عاری از بوروکراسی های جهان سوم اند، او را از درک دغدغه های عاجز می ساخت که در کشور ما، نیازمند احاطه به تمام نزاکت های اجتماعی، فرهنگی و سیاسی است.

تشنجات هیستریک شخصیت دکتور غنی، حالا به همه جای حکومت، سرایت کرده است. آن چه هنوز امید های ما را از او قطع نکرده اند، تقاضای وسعت نظر به مسایل مهم کشور می باشد. تذکرات به جای او که یک هفته پس از کمک های خارجی، سقوط می کنیم یا استقلالیت سیاسی و اقتصادی، لازم و ملزوم اند، عبارت از دشواری هایی ست که در چهل سال بحران، به ملت افغان تفهیم می کنند تحلیل پیچیده گی های روابط با جهان، به میزان تنوع آن، کشور ما را درگیر می کند. بنابراین، بهتر است با حذر از روش های خودکامه که منافع مملکت و مردم را تهدید می کنند، به عنوان کسی که فرصت یافته بود و روزی باید برود، به جریانی کمک کند که به نام پروسه ی صلح در برابر ما قرار دارد.

برخورد های هیستریک در برابر منافع مردم که بیش از همه منافع شخصی را لحاظ می کند، ما را وار فاز دیگر بحران خواهد کرد که در هیچ کجایش، فرصت های از دست رفته ی جامعه ی جهانی وجود ندارند.

تداوم هیستریک حاکمیت در فضایی که از جغرافیای آن کاسته می شود، چه نوع حکومتی را برجا می گذارد؟ ما در 18 سال حضور جامعه ی جهانی، حتی به حداقل خودکفایی نرسیده ایم؛ اگر درگیر تنازع پس از جامعه ی جهانی شویم، با حاکمیتی تنها می مانیم که ولو دومین متفکر دنیا را داشته باشد، اما شبیه حکومت هایی می شود که تنظیم ها در جنگ های داخلی در چهار گوشته ی کشور، درست کرده بودند.

شرح تصویر:
به باور مردم، دکتور غنی حتی یک عکس هم ندارد که او را در حالت طبیعی نشان دهد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تور او سپین صنعت

**اروابناد استاد عبدالجلیل وجدي**

په تېر پسې...

د سراج الاخبار په دغه ګڼه کې له کورنیو او بهرنیو خبرونو سربېره د مولوي عبدالروف تمهیدي سرمقاله، د مولوي محمد سرور خان واصف یوه قصیده او ځینې نور مطالب راغلي دي.

له بده مرغه د سراج الاخبار لومړنۍ ګڼه وروستۍ ګڼه هم شوه. دا ګڼه د وخت د مستبد حکومت له خوا تر سختې خارنې او کنټرول لاندې راغله، لکه چې ویل کېدل د هند برېتانوي حکومت د هغې له خپرېدو سره موافق نه و، ځکه یې د سراج الاخبار افغانستان د نورو ګڼو د خپرېدو مخه ونیوله.

که څه هم د دغه اخبار پیشنهاد د امیر حبیب الله خان د صدراعظم سردار عبدالقدوس خان له خوا منظوره شوې ده، خو شرایط داسې وو چې د وخت مستبدو واکمنانو او انګریزانو د دغسې یو اخبار وجود نه شو زغملای.

ددې تر مخې لاندې پټ پټ حرکتونه محسوسېدل، مګر یې کاوه چې یو اخبار به دغه حرکتونه ګړندي کړي او ځمکې د مخ توپان ورڅخه جوړولی شي.

د سراج الاخبار افغانستان په بندېدو سره د راج الاخبار افغانستان انجمن تر ځمکې لاندې حرکتونه سره ملګري شو، ځکه خو د دغه انجمن او اخبار یو مهم کار کوونکی مولوي محمد سرور واصف کندهاری د وطن د مشروطه غوښتونکیو د لومړني نهضت په راس کې ودرېد. او د اخبار د چلوونکي او د انجمن د مشر مولوي عبدالروف خان د دوو زامنو څخه د سبا ورځې ښه انقلابیون جوړ شول چې په امانیه دوره کې مهمې دندې ور وسپارل شوې.

د سراج الاخبار افغانستان د بندېدو څخه وروسته چې کومه تیاره شروع شوې وه، هغه د سراج الاخبار افغاني د جریدې په رایستلو سره له منځه لاړله.

محمود طرزي چې د سراج الاخبار افغانیه په تاسیسولو سره یې په افغانستان کې د عصري ژورنالیزم بنسټ ایښی دی، د افغاني ژورنالیزم پلار بلل شوی دی. دی د غلام محمد طرزي زوی دی چې هغه په خپله هم ډېر لوی عالم ، لیکوال او شاعر و.

د ژورنالیزم له نظره متبارز شخصیت هغه څوک وي چې یا یې په خپله لویې پېښې را پیدا کړې وي او یا خو د لویو پېښو په بهیر کې لاهو شوی وي. محمود طرزي د همدغسې یوه شخصیت خاوند و، هم یې د لویو پېښو څپې را ولاړې کړې دي او هم د پېښو سېلاب دی په مخه کړی دی.

محمود طرزي یوې عالمي مبارزې او په عین حال کې یوې لالهانده کورنۍ ته منسوب و. دې دواړو خصوصیاتو نړۍ د محمود طرزي په مخکې یو غوړېدلی کتاب وګرځوله. حقیقت دا دی چې جهاد او مهاجرت ډېر برکتونه لري چې یوازې د برخې خاوندان ورڅخه ښه ګټه اخیستلای شي.

نامتو شاعر او عارف مولانا جلال الدین بلخي رومي او علامه سید جمال الدین افغاني هم له هغو مهاجرینو او مبارزینو څخه وو. چې د ښکاره او پټو عالمان ډېر شیان یې د سر په سترګو او د بصیرت په لیمو وکتل او ډېر مهم حقایق ورته کشف شول.

مبارزې او مهاجرتونو محمود طرزي داسې د پوهې، فکر او نظر بصیرت او ابتکاري عمل خاوند وګرځاوه. پوهاند حبیبي د محمود طرزي د ظهور ځینې عوامل شرح شوي او لیکي:

په لومړي ګام کې د کورني چاپېریال تر اغېزې لاندې محمد په انګلیسي ضد روحیې سره را لوی شو. کورنۍ یې د همدغې هېواد پالونکې روحیې په لرلو سره په ژوند کې نادودو او ستونزو د زغملو جوګه شوه. خپله محمود هم د ژوند تر پایه په انګلیسي ضد سیاست کې را ولاړ پاتې شو او کله یې هم خپل دغه موډل بدل نه کړ. په دویم ګام کې د ځوانۍ د دوران د پېښو تاثیر هم د هغه د شخصیت په جوړېدو کې د پاملرنې وړ دی. هغه د دنیا په ګوټ ګوټ کې وګرځېد. د نوې دنیا له نویو پرمختګونو سره اشنا شو او دغه هر څه یې له نژدې ولیدل. په دغه وخت کې ترکیې او عربو ته د اروپا د تمدن نوې نښې نښانې په زیاته پیمانه را رسېدلې وې.

د سید جمال الدین افغاني د افکارو تاثیر هم پر محمود د پاملرنې وړ دی. په دغه وخت کې هېواد پال سید د اسیا د ملتونو ازادۍ ته ملا ترلې وه او د اسلامي هېوادونو د را بېدارولو د هڅو په لړ کې استانبول ته ورغلی و، محمود د خپل پلار د دیوان په قصایدو کې د علامه سید ستاینې لوستلې وې او پلار یې او استاد یې ملا محمد اکرم هوتک تل د هغه په هکله خبرې اترې ورسره کړې وې. کله چې علامه سید استانبول ته ورغی نو سردار غلام محمد طرزي خپل زوی محمود له یو لیک سره یو ځای هغه ته ولېږه. محمود له هغه سره محشور شو او د شرق د ازادۍ غوښتونکیو له پېشوا سره له نژدې اشنا شو. او د ده په افکارو کې یې نوې سپړغۍ وځلولې. په خپله محمود لیکي: علامه سید جمال الدین افغاني د عرفان یو معدن و. زما د اوو میاشتو مصحبت داسې و لکه اویا کاله چې مې سیاست کړی وي... هر وینا او هر جمله یې د رسالو او کتابونو د لیکلو غوښتنه کوي...

په دغو کتنو کې د محمود طرزي هغې کرکې لا زیاتوالی پیدا کړی چې د انګریزانو د تسلط په وړاندې یې لرله. همدارنګه د هغه خپلې ځانګړې هڅې او د نفس په تکمیل کې د هغه تلاش او مجاهدت هم په خاصه توګه د یادونې وړ دی. د ځوانۍ په وخت کې په پښتو، درې، اردو، عربي، ترکي او یو څه فرانسوي ژبو پوهېده او په دغو ژبو کې یې له ادبیاتو څخه زیاته استفاده کوله. او بیا چې د نړۍ په نورو برخو کې وګرځېد، نو په زړه کړو او تجاربو یې نور ډېر څه ور زیات شول.

باید وویل شي چې د محمود پلار غلام محمد طرزي هم د هېواد یو لوی عالم لیکوال او شاعر و. نوموړی په ۱۲۴۵ هـ ق (۱۸۳۰م) کال په کندهار کې زېږېدلی دی. غلام محمد طرزي د امیر دوست محمد خان د دربار په عالمان او امراوو کې داخل و. د امیر شېرعلي خان د دویم ځل پاچاهۍ په وخت کې د هغه او د دربار تر منځ څه ځانګړي اختلافات پیدا شول. په دغه وخت کې هغه زنداني هم شو، له زندان څخه وروسته یې یو کال د انزوا ژوند تېراوه، د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې چې د میوند له اتل (محمد ایوب خان) سره هغه امیر جګړه پېښه شوه نو له هغې جګړې وروسته یو شمېر کسان او کورنۍ له هېواد څخه تبعید شوې، له غلام محمد طرزي سره هم د امیر چندان جوړه رانغله. له درېو میاشتو بند څخه وروسته یې له کورنۍ سره یو ځای له هېواد څخه وتلو ته اړ کړ. هندوستان او ورپسې ځینې نورو هېوادونو ته لاړ. غلام محمد طرزي په ۱۹۰۰ م کال کې په دمشق کې ومړ او همالته خاورو ته وسپارل شو.

په ۱۹۰۰ او ۱۹۰۱ م کلونو کې د محمود طرزي په ژوند کې څه عجیبه حوادث منځ ته راغې. همدغه پېښې د ده په ژوند اغېز کوي. د محمود پلار غلام محمد طرزی له نړۍ څخه سترګې پټې وې، امیر عبدالرحمن خان مړ شو، محمود لپاره افغانستان ته د راتګ اجازه ورکول کېږي.

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د محمود ګرځېدو د ده په ذهن کې د اصلاحاتو او مبارزې، ولولې زیاتې کړې وې. په ډېرو ژبو پوهېدنې، علم او تجربو ددې لپاره زمینه برابره کړه چې امیر حبیب الله خان ته یې نوې زمانه په خوب کې لیدله. ناولونه او نور مهم مطالب یې ترجمه کړل او په دې توګه یې دربار ته لاره پیدا کړه او بیا یې هلته خپل مؤثر رول سرته ورساوه.

محمود په غزني کې زېږېدلی و، پلار یې ځکه ورباندې د محمود نوم کېښود چې دی څه نا څه د سلطان محمود غزنوي کردار تر سره کړای شي. پلار یې ښه ارزو درلوده او هغه کامیابه شوه. محمود طرزي که د محمود غزنوي په څېر ښارونه فتح نه کړل، زړونه یې فتح کړل او ذهنونو ته یې لاره وایستله، سراج الاخبار هر چېرته لوستونکي پیدا کړل.

د سراج الاخبار لومړنۍ ګڼه د دغه په مدیریت په ۱۹۱۱ کې (۱۲۹۰ هـ.ق) کې خپره شوه. له محمود طرزي سره د سراج الاخبار افغاني په خپرولو کې عبدالهادي داودي (پرېشان) او عبدالرحمن لودین او څو نورو کسانو همکاري لرله.

سراج الاخبار افغانیه چې د ۱۲۹۰ هـ.ش څخه تر ۱۲۹۷ هـ ش پورې خپرونې کړې دي: دا خپرونې په لاندې فورمونو کې وې:

۱. خرونه: اخبار دوه دوله ، داخلي او خارجي خبرونه خپرول. بهرني خبرونه له ځینو خارجي منابعو څخه ترجمه کېدل، ځینې به یې د سراج الاخبار د خبریالانو له خوا هم را ټولېدل او یا رالېږل کېدل.

۲. سراج الاخبار غوښتل چې افغانان د نړۍ د نورو ملتونو په علمي او صنعتي پرمختګونو خبر کړي.

۳. سراج الاخبار د ښځو په باره کې هم بېدارونکي او ګټور مطالب خپرول. زمونږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېواد د محرومو ښځو آواز هم د لومړي ځل لپاره د مطبوعاتو په پاڼو کې د سراج الاخبار افغانیه له خوا پورته شوی و. ددې اغېزه په را وروسته کې په ښه ډول لیدل کېږي. د ۱۳۰۰ هـ ش کال د حمل په لومړنۍ نېټه د محمود طرزي د مېرمنې (ا-ر) له خوا د ښځې لپاره د ارشاد النسوان جریده منځ ته راغله او د ښځو د نهضت لومړنۍ بېلگې را څرگندې شوې.

٤. هېواد پالنه، یو بل لوی هدف و چې سراج الاخبار افغاني درلود. له هېواد سره مینه د سراج الاخبار له عمده موضوعاتو څخه یوه وه. سراج الاخبار غوښتل چې د خپل عصر په لب او لهجه خلکو ته د ازادۍ خوښوونې او مبارزې درسونه ورکړي، څو افغانان وکولای شي چې له خپله لاسه ورکړې سیاسي خپلواکي تر لاسه کړي. په سراج الاخبار کې د حی علی الفلاح تر عنوان لاندې د محمود طرزي مقاله د اغېزې او نتیجې له مخه د هېواد د مطبوعاتو له مهمو مقالو څه یوه ده. او په هند کې د انگرېزانو د استعماري حکومت د وخت واکمن تر فشار لاندې راوستل چې د دغې مقالې گڼه سانسور کړي. په مقاله کې راغلي وو چې:

سراج الاخبار افغاني یک اخبار مسلمان است نه انگریزی است نه جرمنی... نه چینی و نه جاپانی... صرف مسلمانی است.... در مسلمانی هم محض افغانیست هر چیزیکه میگوید و هر نغمه ایکه می سراید از نقطه نظر افغانیت میگوید... حی علی الفلاح ای ملت نجیب افغان...

۵. د سراج الاخبار اسلامي او افغاني روحیې دغه اخبار د سیمې د نورو ولسونو لپاره هم د حالاتو هنداره او د هیلو ترجمان وگرځاوه. مرحوم پوهاند حبیبي لیکي: سراج الاخبار یوازې د هېواد په دننه کې د هېواد د ځوانانو او مشروطه غوښتونکیو د فکرونو هڅوونکی او خپرونکی نه و. بلکې د هند د ازادۍ د غوښتونکیو خلکو په محافلو کې د ایران په مشروطه غوښتونکیو کې او د مرکزي اسیا په ځوانانو کې چې د خپلسرو مستبدو شاهانو او د استعمار په لمبو کې سوځېدل هم شهرت او محبوبیت لري.

د جنبش مشروطیت در افغانستان ۱۱٦ مخ.

٦. په سراج الاخبار کې تاریخي مسایلو انعکاسو موند.

۷. له خرافي دودونو سره مبارزه وشوه.

۸. د اعلانونو خپرېدل. د هغو ناولونو په باب زیات اعلانونه چاپېدل چې محمود طرزي ترجمه او چاپ کړي وو.

۹. سراج الاخبار د کوچنیانو لپاره د سراج الاطفال د خپرولو زمینه برابره کړه. دغه اخبار د کوچنیانو او زلمیانو د ذهني روزنې او سویې د لوړولو او د دوی لپاره د تفریح د ښې وسیلې په توگه مهم رول درلود.

۱۰. په سراج الاخبار افغانیه کې پښتو ژبې او ادبیاتو ته هم د محمود طرزي له خوا زیاته پاملرنه وشو. هغه به کله په فارسي ژبه د پښتو ژبې په باب ځینې مقالې ولیکلې او هم یې خپل ځینې همکاران لکه مولوي صالح محمد خان، غلام محی الدین افغان، عبدالرحمن لودین، عبدالهادي پرېشان (داودي)، مستغني او نور .. دې ته وهڅول چې پښتو د معاصر نثر د پیلامې په زړه پورې آثار خپاره شول. د پښتو نظم له اوړو څخه ددېوانو او بلاگانو د انعکاس دروند بار لري او د حالاتو د انعکاس لپاره یې غږ څلانده کړ.



# خواله رسنۍ

## د شخصیت تپنه

دا کار باید پخواني ولسمشر حامد کرزي کړی وای. خو چې ویې نکړ د سیاسي گټې اخیستو هڅه یې هم چا ونشواې لیدلی.

د شخصیت کېش همدې ته وایي، تپنه همدغسې یو استبداد دی!

که محمد اشرف غني پېنځه کاله د مخه واک ته له رسېدو سره سم په یوه فرمان کې په ټولو دولتي ادارو کې د خپل عکس پر ځای د آزادۍ د ملي اتل اعلیحضرت غازي امان الله خان د تصویر لگولو حکم ورکړی وای، نن به پرې چا دده لخوا د ناوړې گټې اخیستو او کمپاین ته ددغه ملي قهرمان د شخصیت را ټیټولو تور نه وای پورې کړی.

خو اوس یې د دولت په پیسو د بیت المال په امکاناتو د آزادۍ د سلمې کلیزې په پلمه د غازي امان الله خان له عکس سره د خپل عکس لگول له ملي ارزښتونو سره د سیاسي لوبو تر ټولو خندنۍ ډرامه رامنځ ته کړې وه.

که ده په رښتیا غوښتلی یا غواړي د اعلیحضرت غازي امان الله خان ناتمام فصل بشپړ کړي، نو واک ته له رسېدو سره سم به یې هغه د ملي رهبرۍ پر ستېج را دبره او تصویر به یې دغه ستېج ځلولی وای.

بیا هم که ده د آزادۍ د سلمې کلیزې په ویاړ په یوه فرمان کې په دولتي ادارو او اماکنو د خپلو فلمي عکسونو پر ځای د امان الله خان د عکس لگولو فرمان ورکړی وای، ښايي نیوکو دومره غبرگونونه نه وای را پورته کړي او دده لپاره به د ختو یا اوړو پوزه گرځېدلې وای. اعلیحضرت غازي امان الله خان ټولمنلی ملي شخصیت او د آزادۍ اتل دی، خو له بده بخته له دغه اتل سره د اشرف غني کمپاینې چلند په لوی لاس د ځینو لپاره د تنازغ حربه برابره کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په کومو سترګو؟

ع. کرلانی

کله چې ولسونه پر واکمنو او سیاستوالو باور له لاسه ورکړي او حکومت ورته د ټګانو باند وبرېښي، عمومي باورونه له زیان سره مخامخېږي، نور نو د ژمنتیا مزي مضبوط نشي پاتېدلی.

د مغزونو فرار له همدې ځایه سرچینه نیسي، له هېواده د بشري ځواک تېښته همدلته زور اخلي.

کله چې په کمپاین کې درواغجن شعارونه، لکه د واک په لومړیو شپږو میاشتو کې د یو میلیون کاري فرصتونو موندل، په ځوانانو کې مصنوعي هیلې له سرابونو سره مخامخ کړي، د کار- روزګار لمن نوره هم ور ټوله کړای شي، د باور کړکېچ خپل اوج ته رسېږي.

عام افغانان پرېږده، ناباوري دومره غوړېدلې چې د مالوماتو له مخې د غني حکومت درېوو وزیرانو، یوولسو والیانو او لسګونو معینانو، رئیسانو او سرکاري مقاماتو له بې خرته ډالري امتیازونو سره سره لوېدیز ته د پناه اخیستو جعلي دوسیې چمتو کړې دي.

دغه بحران دومره غوړېدلی چې ځوان قشر د ژوند په بیه په مرګونو لارو له هېواده په وتلو ځانونه اړ ګوري چې یو شمېر یې پر دغو لارو خپل ژوند له لاسه ورکوي.

غني به خاورې کډوال را ستانه کړي!!

د شوروي تېري پر مهال له هېواده د تېښتې لړۍ دومره نه وه غوړېدلې، لکه په تېرو پينځو کلونو کې یې چې زور اخیستی دی.

هغه ټیم یا شخص چې له لاسه یې په لکونو هېوادوال په وتلو اړ دي په کومو سترګو له خلکو د بیا انتخاب او رایې هیلې پاللی شي.

همدا د سپین سترګی او بې حیایی انتها ده!!

# جرأت که د بې حیایی انتها؟!!

د سپین سترګی او زړه‌ورتیا توپیر د بې حیایی او جرأت تر منځ فرق څومره او په څه کې دی، کومه پیمانه شته چې د دغه توپیر کچه مالومه کړای شي.

غني چې په کومه کچه دولتي امکانات او بیت المال په ټاکنیز کمپاین کې په څومر بېدردۍ او بې توپیرۍ کاروي، زړوتیا ده که سپین سترګي؟

د پوځي چورلکو، دولتي مقام، او بیت المال د ده بې خرته استفاده جرأت ګڼل کېدای شي که د بې حیایی انتها؟!

# د درواغو ګوډي، که د غني رسوايي او بربادي!

اشرف غني څو ځله په کمپايني غونډو کې پر خلکو غږ کړی:

«تاسي ووایئ! چې ما چاته بده خبره کړې، چاته مې کنځل کړي؟!!»

ددې مانا دا ده چې دی د بدو خبرو او کنځلو حق او صلاحیت ځانته خوندي ګڼي- بدې خبرې او کنځلې د ولسمشر له واکونو او صلاحیتونو پېژني، خو چې نه یې دي کړې، دا یې ګویا پر خلکو احسان دی؟!

که نه څوک به ولې بدې خبرې یا کنځلې کوي او هغه هم ولسمشر...

غني دومره کنځلمار را ټول کړي چې ذکر و فکر یې پر کنځلو ولاړ دی. هره ورځ د کنځلو نوې بڼه، ټکي او لغتونه را باسي، د کنځلو او فحش د نوې پرمینالوژۍ په ایجاد پسې لګېدلي دي چې د کنځلو ګوډي یې تش شي نورو اپلتو ته مخه کړي... د افواهاتو په خپرولو پسې ولګي، د مستعارو نومونو، جعلي خبرو او اکاونټو تر شا لکه غله پټ اوسي.

په ظاهر کې به غني ته دغه درواغ پخپله ګټه تبلیغات برېښي، خو په حقیقت کې د درواغو دغه ګوډي د غني د رسوایی، ناکامی او بربادۍ لپاره بس دي، بل چاته د ستومانی اړتیا نه لیدل کېږي.

دوی وایي، د ډاکټر عبدالله لاس تش دی د کمپاین لپاره ورسره پیسې او منابع نشته!!

ددې مانا دا ده چې ډاکټر عبدالله غبن، درغلي او کرپشن نه دی کړی، تدارکات یې په بډه نه دي وهلي، بیت المال یې نه دی لوټلی، پیسې به یې له کومه کړې وي؟!

ډاکټر عبدالله نه له پاکستان سره پر کرښه د اغزن تار معامله کړې او نه یې د شا لخوا د پي. ټي ایم په خنجر وهلو دغسې یوې بې ننګی ته غاړه ایښې ده.

نه یې د جي. ایچ. کیو په درشل تندی سولولی او نه یې آی. ایس آی ته پر سجده سر ټیټ کړی.

نه یې له مخابراتي کرېډېټ کارتونو وهلې، نه یې ټکس او مالیات خپل کمپایني حساب ته لېږدولي، که ووټ او رایه په پیسو او بهرني ملاتړ وي، ډاکټر عبدالله یې ښایي ونه لري، خو که د خلکو په خوښه، زور او اراده وي، بیا ډېرې لارې لړ ولاړې!!

ښاغلي غني د پکتیا مرکز ګردېز کې د بیت المال په امکاناتو خپلې کمپایني غونډې ته وویل:

«وزیرانو، کابینې او چارواکیو پکتیاوالو ته درواغ ویلي، جفا یې ورسره کړې، د پکتیا حق یې خوړلی، د مور او میرې چلند یې ورسره کړی، د درواغو وعدې یې ورسره کړې وې».

درواغ له کبیره یا سترو ګناوو څخه دي.

ظاهر ته په کتو غني پخپلو وزیرانو د درواغو، وعده خلافیو او جفا تور پورې کړی، خو په حقیقت کې یې خپله لمن پر سره اړولې ده.

ده غوښتل پخپلو ملګریو او وزیرانو ددغو تورونو په لګولو ځان تبر او د خلکو له احساساتو سره د لوبو نوې پاڼه را واړوي، خو خلک پوښتنه کوي چې ددغې درواغجنې، وعده خلافې او جفا کارې کابینې مشري د چا پر غاړه وه؟!!

چا یې یو په بل پسې پر سینو د صداقت مډالونه ټومبل؟!!

دا ضمانت څوک ورکولی شي چې د غني کابینه به بیاځلي له درواغجنو، وعده خلافو او جفا کارو پاکه اوسي؟!!

غني د ولسمشر -او لکه دی چې وایي، اعلی سر قوماندان- په توګه د خپلو وزیرانو د وعده خلافیو، درواغو او جفاوو پړ او مسوول دی!

دده یاده وینا په حقیقت کې پخپلو درواغو، وعده خلافیو او جفاوو دده خپل اعتراف او ګواهي ده!

په شریعت او عُرف دواړو کې اعتراف د مواخذې اصل ګڼل کېږي!

# د سلاکار ناپوهي او ناخبري، که د اشرف غني د پالیسی عکاسي؟!

هېوادونه خپلې ملي ټرمینالوژۍ ته د ثابت حقیقت په سترګه ګوري، په رسمي څرګندونو او دریځونو -ان نا رسمي ناستو کې- ورته خپله ژمنتیا له پامه نشي غورځولی.

په سیاست کې هر لفظ او لغت خپله ځانګړې مانا لري -یوازې په لویو سیاسي تعاملاتو کې نه- په عام ژوند او د عوامو په کچه هم د لفظونو، ټکو او اصطلاحاتو توپیر څرګند دی.

وخوره، ونغره، موړ شوې، ډک شوې، ښايي په یوه مانا وکارېږي، خو د مفهوم توپیر یې څرګند دی.

ډیورنډ لاین، پوله نه ده، کرښه ده، د څلورم ټولګي زده‌کوونکي هم پدې پوهېږي چې لاین کرښې ته وایي...

بیا دا یوه ټپلې کرښه ده، اوس که د اشرف غني سلاکار را ولاړېږي او پخپلو ارشاداتو کې هغه پوله او سرحد یادوي، ددې مطلب څه کېدای شي؟!!

د سلاکار ناپوهي او ناخبري، که د اشرف غني د پالیسی عکاسي؟!

د ښاغلي غني ارشد سلاکار ضیاء الحق امرخېل دوې ورځې وړاندې امریکا غږ اشنا ټلوېزیون ته پخپلو خبرو کې اوه ځلې ټپلې کرښه پوله یاده کړه.

امرخېل په رښتیا دومره خېله، ګوسفندي او ناخبره دی، که د غني پالیسي دغه لوري ته اوښتې ده؟!!

له اغزن تار وروسته پاکستا ن ته د اشرف غني بله ډالۍ!

لطیف پدرام یوازې نه دی.

د پاکستاني او هندي کشمیر تر منځ وېش ته به چېرې کوم پاکستانی له سرکار تر اپوزیسیون او عام وګړي پوله یا سرحد ونه وایي، بلکې د کنټرول لاین په نامه یې یادوي، زموږ ښاغلي د پاکستان په مینه کې څومره ډوب را وځي؟!!!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**